

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی

گڼه: ۱۵ | مسلسل نمبر: ۱۰۵

چهارشنبه، د محرم الحرام ۲۰مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د ايکو سازمان په خنډه کې د منځنۍ اسيا هېوادونو سره د مطرح شوو موضوعاتو د تعقيب په موخه غونډه جوړه شوه



۲ صفحه

## د ۵۰۰ میليون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ - هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامه لاسليک شوه



۲ مه صفحه

## د افغانستان د لمريزې او بادي انرژۍ پياوړې ظرفيت او د پانګونې فرصتونه



۵مه صفحه

## سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سرطان مياشتې په ۱۹مه نېټه په ارگ کې د قزاقستان د لومړي وزير له مرستيال او د بهرنيو چارو وزير سره وکتل. د ليدنې پرمهال دواړو لورو د سوداگرۍ، ترانزيټ، اوسپنې پټلۍ، بانکي او اقتصادي همکاريو په اړه خبرې وکړې. د دواړو لورو ترمنځ د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقستان له لوري د ۵۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت د پانگونې د پيل په موخه تفاهمنامه لاسليک شوه.

د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانستان د ترانسپورټي زېربناوو د پراختيا او اقتصادي ودې په برخه کې زيات اهميت لري. دا پروژه به د هېواد د لوېديځې برخې په سوداگرۍ، ترانزيټ او سيمه‌ييز اتصال کې مهم رول ولوبوي. د اوسپنې پټلۍ ياده پروژه نه يوازې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ سوداگريزې اړيکې پياوړې کوي، بلکې د سيمې له نورو هېوادونو سره د اقتصادي او ترانسپورټي اړيکو د پراخولو لپاره هم اساسي رول لري. د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ د پراختيا پروژه د دې کرښې د معياري کولو او اوږدولو لپاره پيل شوې ده. د ۲۰۲۵ کال د جولای په مياشت کې د قزاقستان لومړي وزير اعلان وکړ، چې په دې پروژه کې ۵۰۰ ميليونه ډالره پانگونه کوي.

اوسمهال دا دی د تورغونډۍ- هرات اوسپنې پټلۍ په پروژه کې د ۵۰۰ ميليون ډالرو د پانگونې تفاهمنامه لاسليک شوه. د دې پروژې په بشپړېدو سره به د ترکمنستان، ايران، او نورو مرکزي اسيا هېوادونو سره د سوداگريزو اړيکو د پياوړتيا لپاره يوه لويه لار پرانېستل شي. همداراز د دې کرښې په بشپړېدو سره به د سوداگريزو توکو لېږد چټک او ارزانه شي، چې دا به د افغانستان د کانونو، کرنې او نورو صنعتي توليداتو د صادراتو لپاره نوي فرصتونه رامنځته کړي. سربېره پر دې، دا پروژه به د هرات ولايت د صنعتي پارک او نورو اقتصادي زونونو د پراختيا په برخه کې هم مهم رول ولوبوي. په نېږدې راتلونکي کې به د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانستان د نورو ولايتونو او ان د مرکزي او سويلي اسيا د هېوادونو ترمنځ د ترانزيټي دهليز د يوې مهمې برخې په توگه خپل رول ترسره کړي. دا پروژه به نه يوازې د سوداگريزو توکو د لېږد لپاره يوه اغېزناکه لار وي، بلکې د کاري فرصتونو د رامنځته کولو ترڅنگ به د سيمې اقتصادي وده هم ورسره پراختيا ومومي.

له شک پرته چې د تورغونډۍ-هرات اوسپنې پټلۍ پروژه د افغانستان د اقتصادي پرمختگ او سيمه‌ييز اتصال لپاره يوه ستراتيژيکه پروژه ده. د دې پروژې په عملي کېدو سره به د سوداگرۍ، ترانزيټ او اقتصادي ودې لپاره نوې دروازې پرانستل شي. د قزاقستان په څېر شريکانو ملاتړ او د اسلامي امارت د هڅو دوام به دا پروژه په يوه برياليو زيربنا بدله کړي چې پر مټ به يې د افغانستان او د سيمې د خلکو ژوند سوکاله او هېواد به د ترانزيټ په مرکز بدل او سوداگري به پوره پرمختگ وکړي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

# د ایکو سازمان په څنډه کې د منځنۍ اسیا هېوادونو سره د مطرح شوو موضوعاتو د تعقیب په موخه غونډه جوړه شوه

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اړوندو وزارتونو له مسوولینو سره د تعقیب غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتي په ۱۹مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې



تـــرسره شـــوه. پـــه دې غونډه کـــې د ازبیکســـتان، ترکمنستان، قزاقستان او اذربایجان هېوادونو له مشرانو سره د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په څنډه کې د مطرح شوو موضوعاتو د تعقیب په موخه بحث وشو.

له بحث وروسته اړوندو وزارتونو او ادارو ته خپل کارونه وسپارل شول او هدایت ورته وشو، چې هره اداره دې خپل کارونه په جدي ډول تعقیب او هره میاشت دې د پرمختګ راپور د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له محترم مقـــام سره شریک کړي. د ایکو ســـازمان په ۱۷مـــه سرمشریزه کـــې د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري د یادو هېوادونو له مشرانو سره د جلا جلا لیدنو پرمهال د افغانســـتان او ذکر شوو هېوادونو ترمنځ ســـیاسي او اقتصـــادي اړیکې، ســـوداګري، ترانزیټ، ترانسپورټ، اوسپنې پټلۍ، بربښنا، افغانانو ته د ویزو ورکړې، ګډې بانکي همکارۍ او یوشمېر نور موضوعات مطرح شوي وو

# د ۵۰۰ میلیون ډالرو په پانګونې سره د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژې تفاهمنامه لاسلیک شوه

د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال مـــحترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتي په ۱۹مه نېټه په ارګ کې د قزاقستان د لومړي وزیر له مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر مرات نورتلیف سره وکتل. د لیدنې پرمهال دواړو لورو د ســـوداګرۍ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ، بانکي او اقتصادي همکاریو په اړه خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان او



قزاقستان اړیکې مثبتې او د پرمختګ په حال کې وبللې او ویې ویل، اسلامي امارت له قزاقســـتان سره د هغو همکاریو د پراخېدو لپاره کار کوي، چې د افغانستان د سوکالۍ او پرمختګ لامل ګرځي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال قزاقي لوري ته ډاډ ورکړ چې افغانســـتان کولای شي د یوه مؤثر ترانزیټي دهلېز په توګه، قزاقســـتان ته دا زمینه برابره کړي چې خپلـــه انرژي د افغانســـتان له لارې جنوبي اســـیا ته ولېږدوي.

مـــحترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو ترمنځ له موجودو فرصتونو د ښې استفادې په اړه وویل، دواړه لوري کولی شي د کانونو، ترانسپورټ، مخابراتو، انرژۍ تولید، نفت او ګاز او بنسټیزو پروژو په برخه کې ګډ کار وکړي.

د دې لیدنې پرمهـــال د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنیزو توکو د حفظ او قرنطین د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د اوســـپنې پټلۍ لـــه لارې د صادراتـــو او وارداتو پر زیاتوالي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د نړیوال حمل او نقل او ترانسپورټ په اړه د موافقتنامې پر لاسلیک کېدو، د



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې

د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي


افغانســـتان، ایران، قزاقستان او ترکمنستان ترمنځ په صنعتي، سوداګریز او ترانسپورټي ډګر کې پر مشترکې همـــکارۍ، په دواړو هېوادونو کې د لویو ســـوداګریزو مرکزونو پرانیستلو او د ترانزیټي فیسونو پر کموالي بحث وشو، چې په تطبیق سره به یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه درې میلیارد ډالرو ته ورسېږي.

وروسته د قزاقستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښـــاغلي مرات نورتلیـــف خبرې وکړې. هغه وویل، دوی په نړیوال سټیج له افغانستان څخه خپل ملاتړ تـــه دوام ورکوي او ويني چې د افغانســـتان او قزاقستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د ګډو همکاريو او نږدې کار کولو لپاره ښه زمينه برابره شوې ده. نوموړي زياتـــه کړه، قزاقســـتان چمتـــو دی چـــې د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې عملاً د ۵۰۰ ميليون ډالرو په ارزښت پانګونه پيل کړي. هغه افغانستان ته د بربښـــنا وارداتو د زياتوالي، د قزاقســـتان بازارونو ته د افغانستان د کرنيزو محصولاتو انتقال او د قزاقستان په ازادي او زمان بانکونو کې د افغاني بانکونو د حسابونو پرانيستلو ته له خپل لوري چمتووالی څرګند کړ.

د رياســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتيال د هـــرات – تورغونډۍ اوســـپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقســـتان له پانګونې هرکلی وکړ او دا يې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزيټ او سوداګرۍ کچې زياتېدو لپاره مهم ګام ياد کړ. په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د هرات – تورغونډۍ اوسپنې پټلۍ پروژه کې د قزاقســـتان له لوري د ۵۰۰ ميليون ډالرو په ارزښـــت د پانګونـــې د پيل په موخه تفاهمنامه هم لاسليک شوه.

# اخبـــار اقتصـــادی هفتـــه

## نمایش‌گاه زعفران هرات؛ حضور شرکت‌های داخلی و خارجی

نمایش‌گاه سه‌روزه گل زعفران با حضور ده‌ها شرکت داخلـــی و خارجی در هرات به پایان رســـید. در این نمایش‌گاه بیش از صـــد غرفه از تولیدات داخلی به نمایش گذاشـــته شـــده‌اند و شرکت‌هایی از ایران، پاکستان، تاجیکستان و اوزبیکستان نیز در آن حضور داشتند. تســـل خان برگزارکننده این نمایش گاه گفـــت: «بخاطر حمایت از تولیـــدات داخلی و صنعت افغانســـتان که در این نمایش‌گاه در حدود ۱۰۰ غرفه و اشتراک‌کننده ما داشـــتیم. غرفه‌های مختلف، تجارهای ملی و بین‌المللی هم اشتراک داشـــتند.» هدف از برگزاری این نمایشگاه، معرفی تولیدات داخلی و فراهم‌ســـازی ســـهولت‌ها برای صادرات اعلام شده است. یونس قاضی‌زاده رییس اتاق تجـــارت و سرمایه‌گذاری هـــرات در این باره گفـــت: «نمایش‌گاه‌هـــای گوناگون در چند ســـال گذشـــته برای شناخت، بازاریابی و افزایش صادرات در کشـــورهای مختلف برگزار شده و زعفران‌کارهای هـــرات و افغانســـتان در آن اشتراک کرده‌انـــد.» شماری از غرفـــه‌داران می‌گویند که در ســـال‌های پســـین، کیفیت تولیدات داخلی بهبود یافته است. آنان خواهـــان فراهم‌شـــدن ســـهولت‌ها در زمینه صـــادرات کالاهای داخلـــی به بازارهـــای جهانی هستند. مســـوولان امارتي می‌گویند که برای رشد تولیـــدات داخلی و صادرات آن به خارج از کشـــور تلاش می‌کنند. حمدالله فطرت معاون ســـخن‌گوی امارت اسلامی گفت: «امارت اسلامی در این بخش متعهد اســـت که از صنعـــت‌کاران حمایت کند و از ادارات دولتـــی و همه می‌خواهد که همه‌شـــان از تولیدات داخلی استفاده کنند، و این‌گونه نمایش‌گاه های بزرگ ملی و بین‌المللی برگزار کنند.»





ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی


## مطالعات پروژه خط آهن بلخ-هرات و هرات-قندهار تکمیل شد

وزارت فواید عامه از تکمیل سروی و مطالعات پروژه خط آهن بلخ-هرات و هرات-قندهار خبر داده است. محمداشرف حق‌شناس سخن‌گوی وزارت فواید عامه می‌گوید که آمادگی‌ها برای آغاز عملی کار روی این دو مسیر مهم اقتصادی جریان دارد. به گفته آقای حق شناس، با تکمیل کار این دو راه آهن، افغانستان به مسیرهای بزرگ تجارتی منطقه وصل می‌شود و ظرفیت های ترانزیتی کشور به‌گونه‌ی چشم‌گیری افزایش خواهد یافت. سخن‌گوی وزارت فواید عامه افزوده است: «مسیر خط آهن بلخ-هرات و هرات-قندهار از کریدورهای مهم و اقتصادی افغانستان است. سروی و مطالعات این پروژه از سوی وزارت فواید عامه تکمیل شده است. بر اساس حکم ریاست‌الوزراء هیأت توظیف شده و بخاطر تثبیت مسیر، به ولایت‌های مربوط سفر کردند، پس از این ما گام‌های بعدی عملی را درباره دیزاین پروژه، جلب سرمایه‌گذاری و آغاز کار بر می داریم تا بتوانیم کار اعمار و ساخت‌وساز مسیر خط آهن بلخ- هرات و هرات-قندهار را آغاز بکنیم.» مسیر بلخ تا هرات در حدود ۵۶۱ کیلومتر و از هرات تا قندهار ۷۶۱ کیلومتر طول دارد. در همین حال سکتور خصوصی نیز توسعه خط آهن را برای رشد اقتصادی کشور حیاتی می داند و خواهان تسهیل بیشتر برای سرمایه‌گذاری در این پروژه‌ها است. بر بنیاد معلومات وزارت فواید عامه، افغانستان حدود ۲۴۰ کیلومتر راه‌آهن عملیاتی دارد که از طریق حیرتان، آقینه، تورغندی و خواف به کشورهای ازبیکستان، ترکمنستان و ایران وصل است. خطوط ریلی موجود در افغانستان به عنوان زیربنای توسعه تجارت، ترانزیت و اتصال به شبکه جهانی ریلی محسوب می‌شوند.

## ساخت تونل‌های انحرافی بند بخش‌آباد در حال تکمیل شدن است

کار ساخت تونل‌های انحرافی بند بخش‌آباد در ولایت فراه، با پیشرفت ۸۵ درصدی وارد مراحل نهایی خود شده است. وزارت انرژی و آب می‌گوید این بند که در ولسوالی بالابلوک و بر رودخانه فراه رود موقعیت دارد، از پروژه‌های کلیدی مدیریت منابع آبی در غرب افغانستان به شمار می‌رود. بند بخش‌آباد ظرفیت آبیاری ۶۸هزار هکتار زمین و تولید ۲۷ میگاوات برق را دارد. مطیع‌الله عابد سخن‌گوی وزارت آب و انرژي در این باره گفته است: «پروژه بند بخش‌آباد ولایت فراه یکی از پروژه‌های مهم این وزارت و آب است که کار فاز اول آن تا ۸۵ درصد پیش رفته است. این پروژه در مدیریت آب در منطقه یک پروژه بزرگ است که می‌تواند ۶۸هزار هکتار زمین زراعتی را آبیاری و ۲۷ میگاوات برق تولید کند.» برخی از آگاهان با اشاره به اثرات مثبت سرمایه‌گذاری‌ها در ساخت‌وساز بندهای آبی در کشور، تاکید می‌کنند که بند بخش‌آباد افزون بر اهمیت اقتصادی، نقش مهمی در تأمین امنیت غذایی و مدیریت آب در منطقه دارد. بر بنیاد معلومات وزارت آب و انرژي، با تکمیل پروژه بند بخش‌آباد ولایت فراه، افزون بر کنترل سیلاب‌های موسمی و تامین نیازهای انرژی محلی، این بند می تواند در بهبود معیشت و افزایش حاصلات زراعتی در این ولایت نقش کلیدی ایفا کند.

## کار بازسازی شاهراه سالنگ در سه بخش به‌گونه همزمان جریان دارد

وزارت فواید عامه می‌گوید که کار بازسازی شاهراه سالنگ در سه بخش به‌گونه‌ی همزمان ادامه دارد. به‌گفته‌ی مسوولان، این روند شامل بخش‌های شمالی، جنوبی و مسیر خنجان تا دوشی می‌شود و رفت‌وآمد موترهای باربری نیز از مسیرهای بدیل بدون مشکل جریان دارد. محمد اشرف حق‌شناس سخن‌گوی وزارت فواید عامه گفت: «در سالنگ جنوبی عملا کار کانکریت‌ریزی جریان دارد که در کانکریت‌ریزی سه گالری تقریبا در حال تکمیل شدن است و کانکریت‌ریزی فواصل بین گالری‌ها هم آغاز شده است. در عین حال در دو بخش دیگر که عبارت از خنجان الی دوشی را دربر می‌گیرد، قیرریزی جریان دارد.» وزارت فواید عامه با تأکید بر نظارت دقیق بر این پروژه، از فعال بودن تول‌پلازا خبر داده و می‌گوید که عواید آن برای بازسازی این مسیر به شرکت‌های قراردادی واگذار می‌شود. در همین حال، شماری از آگاهان اقتصادی با توجه به موقعیت راهبردی شاهراه سالنگ، تأکید دارند که نوسازی این مسیر باید معیاری، پایدار و بلندمدت باشد. شاهراه سالنگ سالانه هزاران تُن کالاهای تجارتی و ترانزیتی را حمل می‌کند و بازسازی آن نقش مهمی در تقویت اقتصاد، کاهش هزینه‌های ترانسپورتی و افزایش پیوندهای منطقه‌ای افغانستان ایفا می‌کند.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او ټــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامــه آبــادی



# د افغانستان د لمریزې او بادي انرژۍ پیاوړې ظرفیت او د پانګــونې فــرصتــونه

زاهــــد

## سریزه

په اوســنۍ نړۍ کې انرژي د یو هېواد د اقتصادي ودې له پاره اساسي اړتیا ده. ټول صنعتي او پراختیایي فعالیتونه د انرژۍ په واسطه سرته رسېږي. انرژۍ د صنعتي هېوادونو په پرمختللو کې مهم رول لوبولی دی. افغانستان بیا د نړۍ له هغــو هېوادونو څخــه دی چې کافي انــرژي نه لري. اوســمهال هېواد کې انــرژۍ ته اړتیا ډېــره ده. صنعتي ښارګوټي او عام وګړي کافي انرژۍ ته لاسرسی نه لري. له بلې خوا، په هېواد کې د انرژۍ د تولید ډېر ظرفیت شــته. افغانســتان د انرژۍ د تولید له پاره ډېرې اوبه، لمر، باد او نــورې سرچینې لري چې کېــدای شي د هېواد د انرژۍ د تولید اړتیا پوره کړي. سره له دې چې په هېواد کې د انرژۍ د تولید ځینې سرچینې شــته، خو بیا هم د انرژۍ په برخه کې پــه ځینو هېوادونو متکي یو او اوســمهال ډېره انرژي واردوو. اسلامي امارت هڅه کــوي چې د هېواد د انرژۍ اړتیا له داخلي سرچینو پــوره کړي او په دې اړه یې د نوې کېدونکې انرژۍ( اوبو، لمر او باد) څخه د انرژۍ د تولید ځینې پــروژې پیل کړي دي، څو له یــوې خوا د وارداتي انرژۍ کچه راکمه شي او له بلــې خوا د هېواد له سرچینو څخه سالمه استفاده وشي. له اقلیمي او چاپېریالي ستونزو ډکې نړۍ کــې نوې کېدونکې او پاکې انرژۍ ته اړتیا ډېره احساســېږي. له نېکه مرغه، افغانستان د بادي انرژۍ د تولید له پاره ښه فرصتونه لري.

## د لمریزې او بادي انرژۍ پېژندنه

په نړۍ کې د انرژۍ د تولید له پاره دوه ډوله سرچینې شته. یــوه یې نوې کېدونکې یا د تجدید وړ سرچینه ده او بله یې نــه نوې کېدونکې سرچینه ده. په نــوې کېدونکې سرچینه کې اوبه، لمر (ســولري انــرژي)، باد او یو شــمېر نورې سرچینې شاملې دي.

نوې کېدونکې انرژۍ ته ځکــه نوې کېدونکې ویل کېږي چې پای ته نه رسېږي. په دوامدار شکل موجوده وي او په طبیعــي توګه بیا نوې کېږي. د لمریزې انرژۍ سرچینه (لمر) او د بادي انرژۍ سرچینه (باد) تر ډېره موجود وي. لمر هره ورځ راخېژي او باد هره ورځ چلېږي. دا دواړه سرچینې له میلیونونو کلونو راهیســې شته او ممکن میلیونونه کلونه نور هم دوام وکړي او د انرژۍ د تولید د سرچینې په توګه ترې استفاده وشي.

لمریزه انرژي چې ســولري انرژي هم ورته ویل کېږي، د لمر لــه وړانګو څخه تولیدېږي او بــادي انرژي د باد له امله د توربینونو په واسطه تولیدېږي.



## د افغانستان د انرژۍ طبیعي ظرفیت او مناسب ولایتونه

له نېکه مرغه په هېواد کې د نوې کېدونکې انرژۍ د تولید ډېر ظرفیت شــته. لمر د نوې کېدونکــې انرژۍ له ډلې په نړۍ کې د انرژۍ د تولید مهمه سرچینه ده. افغانستان کې شــاوخوا درې ســوه ورځې لمر وي او دا د لمریزې انرژۍ د تولید په برخه کې ډېره مرسته کوي. صاف اسمان او پاکې هوا د افغانســتان د لمریزې انرژۍ ظرفیت لوړ کړی دی. د معلوماتــو لــه مخې، په هېــواد کې د شــاوخوا ۲۲۲ زره میګاواټه لمریزې انرژۍ د تولید ظرفیت شته. هلمند له هغو ولایتونو څخه دی چې د لمریزې انرژۍ د تولید ډېر ظرفیت لــري او دغه کچه شــاوخوا ۳۳ زره میګاواټه ده. له هلمند وروسته کندهار او هرات د لمریزې انرژۍ ډېر ظرفیت لري.

د نوې کېدونکې انرژۍ بله طبیعي سرچینه باد دی. د هېواد یو شــمېر ولایتونه د نوې کېدونکې انرژۍ له پاره کافي باد لري. د افغانســتان برېښــنا شرکت د مســوولینو په وینا، افغانستان د سل زره میګاواټه بادي انرژۍ د تولید ظرفیت لري. هرات ولایت کې ډېر بادونه چلېږي، نو ځکه له نورو ولایتونو د بادي انرژۍ د تولید له پاره ښــه مناسب ولایت ګڼل کېږي. د هرات تر څنګ نیمروز او هلمند ولایتونه هم د بادي انرژۍ د تولید ښه ظرفیت لري.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلــــو په برخـــه كـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه ابادي
هفته‌نامه آبادی


## د لمريزې او بادي انرژۍ د توليد پروژې

په هېواد کې د لمريزې انـــرژۍ د توليد لومړنۍ پروژه په باميانـــو او د بـــادي انـــرژۍ د توليد لومړنـــۍ پروژه په پنجشـــېر کې پيل او بشپړه شوه. وروســـته په کندهار او نـــورو ولايتونو کې هم د نوې کېدونکـــې انرژۍ د توليد قرارداد لاسليک شو.

د افغانســـتان اسلامي امارت له راتګ وروســـته له کورنيو سرچينو څخـــه د انرژۍ د توليد هڅې ګړندۍ شـــوې. په وروستيو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د انرژۍ د توليد پروژې پيل شـــوې چې يو شمېر يې ګټې اخيستنې ته ســـپارل شـــوي دي. په کابل، بلخ، ننګرهار، لغمان او هـــرات کې د لمريزې او په هرات کـــې ولايت کې د بادي انرژۍ پروژو عملي چارې رواني دي چې په بشـــپړېدو سره به يې په هېواد کې د انرژۍ اړتيا تر يوې کچې پوره شي.

د رياســـت الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۴ کال د غبرګولي مياشتې په لسمه نېټه پـــه هرات کې د ۴۳.۲ مېګاواټه بـــادي او پينځه مېګاواټه لمريزې انرژۍ د توليد دوه پروژې پرانيستې.

د رياســـت الوزراء اقتصادي مرســـتيال په خپلو خبرو کې وويل، دا پروژې د افغانســـتان د انرژۍ سکتور د پراختيا، عصري کېدو او خودکفايۍ ته د رسېدو په برخه کې مهمه لاسته راوړنه بلل کېږي. دا پروژې به نه يوازې پر وارداتي برېښنا د هېواد اتکا راکمه کړي، بلکې د چاپېريال ساتنې، دوامـــداره انرژۍ او نوې ټکنالوژۍ د ترويج له پاره به هم فرصتونه برابر کړي.

له حکومتي چوکاټ ور اخوا، يو شـــمېر ســـوداګرو او ډېرو هېوادوالو په شخصي ډول د لمريزې انرژۍ د توليد کوچنۍ پروژې پلي کړې. دغه کوچنيـــو پروژو تر ډېره د هېوادوالو اړتياوې پوره کړې او اقتصادي ځرخ يې فعال ساتلی دی.

## د پانګونې فرصتونه

په هېواد کې د نورو ســـکټورونو تر څنګ د انرژۍ سکټور کې هم د پانګونې له پاره ښـــه فرصتونه شـــته. اسلامي امارت ټولـــو پانګوالو ته بلنه ورکړې چې په افغانســـتان کې پانګونه وکړي او په دې اړه به اسلامي امارت ورسره پوره همکاري وکړي.

په هېواد کې په تېر کې د فســـاد له امله د انرژۍ سکټور کې ډېرې پروژې پلي نه شوې او همدا لامل دی چې لا هم له نيمايي ډېر افغانان انرژۍ ته لاسرســـی نه لري. انـــرژۍ ته اوس ډېره اړتيا ليـــدل کېږي او په دې برخه کې پانګونې ته ډېـــره اړتيا ده. کورني او بهرني پانګوال کولی شي چې په افغانستان کې د انرژۍ سکټور کې له دې ښه فرصت څخه ګټه واخلي.

د افغانستان ښـــه جغرافيوي موقعيت او اقليمي وضعيت د نوې کېدونکې انرژۍ د توليد له پاره ښه فرصتونه لري او کېدلـــی شي چې له اوبو، لمر او بـــاد څخه د انرژۍ د توليد لـــه پاره په بېلابېلو ولايتونو ګټې پروژې پلي شي.

## پايله

انرژي د هېوادونو د اقتصادي پرمختګ له پاره اســـاسي اهميت لري. سره له دې چې په افغانستان کې د انرژۍ د توليد له پاره پراخه طبيعي سرچينې شـــته، خو لا هم د انرژۍ کمښت يوه جدي ستونزه پاتې ده.

په افغانستان کې د انرژۍ سکټور کې د پانګونې له پاره ښه فرصت برابر شـــوی دی او کورني او بهرني پانګوال کولـــی شي چې له دغه فرصت څخه اســـتفاده وکړي. د هېواد د انرژۍ له طبيعي سرچينو څخه ســـالمه اســـتفاده کولـــی شي چې له يوې خوا پـــه وارداتي انرژۍ د هېواد تکيه راکمه او بهـــر ته د ميليونونـــه افغانيو د وتلو مخه ونيســـي او له بلې خوا د افغانستان د صنعتي پرمختګ، کاري فرصتونو ايجاد او په ټوله کې د هېواد د اقتصادي ودې لامل شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانی پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶۹,۱۰؋ | ۶۹,۱۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۲؋ | ۲۳۲؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,۷۹؋ | ۰,۸۰؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۸۰,۲۹؋ | ۸۰,۳۵؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۹؋ | ۰,۸۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۰۶؋ | ۸۰۷؋ |
| ۱ | انګليسي پونډ | ۹۲,۵۷؋ | ۹۲,۶۴؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۴۲؋ | ۱۸,۴۴؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۸۱؋ | ۱۸,۸۳؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۶۳؋ | ۹,۶۴؋ |

